مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حکیم روان

۲۰۲۰/۰۳/۳۱

طالبان او مجاهدین د مداخلی او افغان ضد جګړې افزار

«جهاد افغانستان، دفاع پاکستان!» د جنرال ضیاءالحق دا مشهوره خبره د یوه انکار نه منونکی حقیقت بیان دی . په پاکستان کې پیدا شوی اوه سري ښامار یو بل سر هم پیدا کړ(طالبان) !
دې آته سري ښامار نه یواځې د افغانستان راتلونکی تباه او برباد کړه ، بلکې ماضي ته یې هم اور ورته کړ . زمونږ تاریخ یې توهین او تحقیر کړ ، لنډه دا چې د فی سبیل الله جهاد غلو!!! او جاسوسانو د نړیوالو په سترګو کې له افغان او افغانستانه کالی ایستلی دی .
مجاهدین او طالبان د پاکستان کرایي قاتلینو (پاکستانی نظامیانو) د پاکستان د ګټو او افغانستان د بربادۍ د پاره وروزل . دې نمک حرامو او وطن پلورونکو تش په نوم مسلمانانو، افغانان وحشی ، بی فرهنګه ، قانون ګریزه ، مفسد او غله معرفی کړل . نړیوال افغانان د جهادی او طالبی مشرانو له مخې پیژنی . د پاکستان او ایران د نوکرانو او د امریکا د ډالرخورو له مخې د افغانانو په هکله فکر کوي . هغه جهادی مشران چې د پاکستان او ایران سره تر مزدورۍ د مخه یې بوټونه او څپلۍ نه لرلې نن په دوبی ، ترکیه ، لندن او نیویارک کې بلډینګونه لري . که په وطن یې سودا نه وي کړي ، له کومه شول ؟
دا مزدوران دومره بی حیا شوی دی چې په هره خبره کې وایي چې « نه یې منم «
هلته د بی نظیرې بچیان طالبان وایي چې : نه یې منم ، دوی پاکستان درلود اوس یې امریکا هم پیدا شوه ، یوه سمه خبره نه مني .
دلته ګلمرجان وایي چې : نه یې منم ، ایران یې تر شا دی ، روس یې ترشا دی ، د امریکا په ډالرو مست دی ، یوه سمه نه کوي .
سیاسیونو یې لا بله ننداره جوړه کړي ده . کوم سیاسیون ؟ هغوی چې مسکو ، تهران او پنجاب ته سجدې کوي . دوی خلک لوټ کړی دی ، د خلکو استازیتوب هسې پسې واړوي ! دوی د خلکو استازی نه د خلکو دښمنان دی . یو څو کسه وړي یې د نس په بیه ځانته نیولی دی او هر ځای د رهبر اکټونه وربانديې کوي . دا تجاران دی ، د ورځې افغانان دی د شپې د افغانانو دښمنان !
سیاسیون هم وایي نه یې منم ، د حکومت مذاکرات نه منم ، د حکومت پلاوئ نه منم ، انتخابات نه منم ، زوی مړیه بیله خپل ژور او بوین نس څخه څه شئ مني ؟
زه وایم تر افغان مشره به بدمرغه په دې نړۍ څوک نه وي . اوس هر سړی د سولې پرانګ دی . حتی هغوی چې هر پښتون به یې طالب باله او د ویشتلو د پاره به یې توپ نه خوښیده چې په کوم توپ یې وولی . اوس ټول د خدای د پاره اخته دی ، یواځې ولسمشر دوکتور اشرف غنی هغه چې بې معاشه کار کوي د ځان د پاره اخته دی . اشرف غنی په خپله د علومو ډاکتر دی ، باشرفه میرمن یې له ماستری لوړ تحصیلات لري ، زوی یې لوړ تحصیلات لری ، لور یې همدارنګه . اولادونه یې د پلار او مور مرستې ته هېڅ ډول اړتیا نه لري . اشرف غنی له پلاره د پرېمانه ځمکو او جایدادونو چښتن دی . د خپل پلار په دسترخوان لوی شوی دی . نیکه یې د افغانستان په تاریخ کې نوم لري . د دې سیاسیونو په شان خو د تهران او پنجاب په دسترخوان نه دی لوی شوی . د جهادی مشرانو او جعلی سیاسی مشرانو نومونه چې را یادیږي ، د خدای په پار کانګې راځي . چا په کلی کې نه پرېښودل ، اوس د خان کره ، هو یواځې د خان کره آس تړي . ښه یې ویلي دی : تا احمق در دنیا است ، مفلس در نمی ماند . د اسلام دکاندارانو ، د قوم ټیکه دارانو او سیاسی معامله ګرانو ته د « شهیدې فرخندې » قاتلین په لاس ورغلی دی . مور او پلار هم ور باندې وژلای شی ، که څه هم جنت د مور تر پښو لاندې دی .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښه ! ته لا ملا نه يې طالبه ، ورک شې چړيه ، امريکا دوې خوړې خبرې درته وکړې اوس په پچه ناست يې کشمير وينې ! افغانان خو نه ياست ، ځکه ستاسو په نزد وطن او افغانيت هيڅ مانا نه لري . هغه چې تاسو يې دعوا کوئ ، هغه هم نه ياست . کاشکې تاسې مسلمانان واى . د جرمنى د مشرې انجيلا مرکل په يوه خبره ستاسو لرې او بويناکې کولمې هر چا وپيژندې چې وايي : مسلمان قاتل هم الله اکبر وايي او مسلمان مقتول هم الله اکبر وايي ، دا څنګه دين دى ؟

امريکا دې ملګرى شوه ، پټ ترونونه دې هم ورسره وکړل ، خو امريکائيانو تاسې افشاء کړئ .تاسو ته به امريکائيان ډالر او وسلې درکوي او د نورو سره به مو جنګوي . دې ته شنه مړه واست او دا دى د زړه مطلب مو پوره شو . امريکا هم همدا غوښتل . اوس د پنجاب يوه غوښتنه پاتې ده چې چړيان واک ته ورسوي ، که دا کار هم وشو ، نور مو عبادت پوره دې . مونږ له تاسو هيڅ نه غواړو ځکه تاسو د امريکا سره له جوړې وروسته هم د افغانانو وينې تويوى . کرنيل امام به ويل چې د افغانانو وينې چټلى دى بايد توى شى . تاسو چې د کرنيل امام شاګردان ياست ... ګورو به .

لعنت دې وي د ټپي، ټپى افغانستان په رنګا رنګ دښمنانو!

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ